فبروري ۲۰۲۳ | ۰.۱ نسخه

پښتو | Pashto

# د ویکټوریا د ماشومانو د خوندیتوب معیارونه

## په ساده ژبه لارښود

COMMISSION FOR CHILDREN AND YOUNG PEOPLE

# د ماشومانو د خوندیتوب معیارونه څه دي؟

- د ماشومانو د خوندیتوب معیارونه (معیارونه) د ۲۰۱۶ کال په جنوري کې په ویکتوریا کې پیل شول.
- معیارونه د ماشومانو سره د ناوړه ګټه اخیستنې او زیان څخه په خوندي ساتلو کې مرسته کوي.
- د ماشومانو خوندیتوب ۱۱ معیارونه لري.
- هغه سازمانونه چې د ماشومانو[1] سره کار کوي *باید* د معیارونو سره سم عمل وکړي. د *اطاعت* معنی دا ده چې ستاسو سازمان باید داسې شیان ولري چې وښيي چې تاسو[2] هر معیار تعقیب او پوره کوئ.



*دا سند د ماشومانو د خوندیتوب د معیارونو لنډیز دی. دا داسې کلمې او انځورونه لري چې د پوهیدو لپاره آسانه دي ترڅو د معیارونو په تشریح کولو کې مرسته وکړي. پدې کې د معیارونو بشپړې جملې یا ټول هغه شیان شامل ندي چې تاسو یې باید د معیارونو د اطاعت لپاره ترسره کړئ. تاسو کولی شئ د معیارونو بشپړ متن او د اطاعت کولو څرنګوالي په اړه نور معلومات زموږ په [ویب پاڼه](#) کې ولولئ.*

1 "ماشومان" هغو خلکو ته ویل کیږي چې عمر یې له ۱۸ کالو څخه کم وي.

2 مونږ د "تاسو" کلمه هم کاروو کله چې د "ستاسو د سازمان" په اړه خبرې کوو.




## د ماشومانو د خوندیتوب معیار ۱


### سازمانونه ډاډ ترلاسه کوي چې د استرالیا د اصلي اوسیدونکو ماشومان په کلتوري توګه د خوندیتوب احساس وکړي. دوی د هر ماشوم هویت او تجربو ته درناوی او ارزښت ورکوي.

ستاسې اداره او کارکوونکي باید:

- د اصلي اوسیدونکو[3]، د هغوی کلتور او د هغوی حقونو ته ښه راغلاست
- پوه شئ چې دا څرنګه د داسترالیا د اصلي اوسیدونکو ماشومانو سره مرسته کوي چې د خوندیتوب او ښه احساس وکړي
- د نژاد پرستۍ اجازه مه ورکوئ او د نژاد پرستۍ سره د مقابلې لپاره قوانین او اقدامات باید ولرئ
- د استرالیا د اصلي اوسیدونکو ماشومانو سره مرسته وکړئ چې خپل متنوع هویتونه، دودونه، عقیدې او ژبې څرګندې کړي
- داسترالیا د اصلي اوسیدونکو ماشومانو او د هغوی کورنیو سره مرسته وکړئ چې ستاسو په سازمان کې ښکیل شي
- ددې ډاډ ترلاسه کړئ چې دوی له کلتوري پلوه د خوندیتوب احساس وکړي
- داسې پالیسۍ او سیستمونه ولرئ چې وښيي تاسو دا کارونه کړي دي.

3 مونږ داسترالیا د اصلي اوسیدونکو او تورس سټریټ ټاپوګانو د خلکو په اړه د خبرو کولو لپاره د 'ابوریجنل' کلمه کاروو.

# د ماشومانو د خونديتوب معيار ۲



د سازمان مشران د ماشومانو په خونديتوب او ښه ساتلو تمرکز وکړي. سازمانونه د ماشومانو د ناوړه ګټه اخيستنې يا زيان د خطرونو موندلو، مخنيوي او بندولو لپاره پروسې ولري.

ستاسو اداره بايد:

- د ماشومانو خونديتوب ته **عامه ژمنه** وکړئ. دا پدې مانا ده چې تاسو ټولنې ته خبر ورکوئ چې د ماشومانو خونديتوب ستاسو د سازمان لپاره مهم دی.
- د ماشومانو د **خونديتوب او هوساينې پاليسي** ولرئ. دا يو سند دی چې تشريح کوي چې ستاسو سازمان څرنګه ماشومان خوندي ساتي
- ډاډ ترلاسه کړئ چې په سازمان کې هرڅوک د ماشومانو خونديتوب ته وده ورکوي
- د کارمندانو او رضاکارانو لپاره د **حلند ليکلی** قانون ولرئ. دا يو سند دی چې کارمندانو ته تشريح کوي چې د ماشومانو شاوخوا څرنګه حلند وکړي او کوم شيان دي چې سم ندي
- د ماشومانو لپاره د خطرونو د موندلو، مخنيوي او بندولو د څرنګوالي په اړه سند
- ډاډ ترلاسه کړئ چې کارمندان پدې پوهيږي چې څرنګه معلومات شريک کړي او د ماشومانو خونديتوب په اړه ريکارډونه وساتي.

# د ماشومانو د خونديتوب معيار ۳




ماشومان د خپلو حقونو په اړه پوهيږي، دا به جدي نيول کيږي، او په هغو پريکړو کې به برخه أخلي چې په دوی اغيزه کوي.

ستاسو اداره بايد:

- ماشومانو ته د دوی د حقونو په اړه وواياست:
  - خونديتوب
  - معلومات
  - د دوی په اړه پريکړو کې برخه واخلئ
- د ملګرتيا اهميت درک او هڅونه يې وکړئ. دا د ماشومانو سره مرسته کوي چې د خونديتوب احساس وکړي
- ماشومانو ته د جنسي تيري د مخنيوي په اړه پروګرامونه او معلومات وړاندې کړئ
- ډاډ ترلاسه کړئ چې کارکوونکي او رضاکاران کولی شي:
  - په ماشومانو کې د ناوړه ګټه اخيستنې او زيان نښې نښانې وپيژني
  - ماشومانو سره مرسته وکړي چې په ښکاره ډول خبرې وکړي او د هغو شيانو په اړه خبرې وکړي چې دوی اندېښمن کوي
- ماشومانو سره مرسته وکړي چې ستاسو په سازمان کې ښکيل شي
- هغه څه چې ماشومان تاسو ته وايي عمل پرې وکړئ ترڅو دوی د خونديتوب احساس وکړي او وغواړي چې ستاسو په سازمان کې ښکيل پاتې شي.

# د ماشومانو د خونديتوب معيار ۴



سازمانونه کورنيو او ټولنو ته وايي چې څرنګه دوی ماشومان د ناوړه ګټه اخيستنې او زيان څخه خوندي ساتي. دوی هڅوي چې د ماشومانو د ناوړه ګټه اخيستنې او زيان څخه په خوندي ساتلو کې برخه واخلي.

ستاسو اداره بايد:

- له کورنيو سره مرسته وکړي چې په هغو پريکړو کې برخه واخلي چې د دوی ماشوم اغيزمنوي
- کورنيو او ټولنې ته ووايي چې ستاسو اداره څرنګه ماشومان د ناوړه ګټه اخيستنې او زيان څخه خوندي ساتي
- ډاډ ترلاسه کړي چې کورنۍ او ټولنې په آسانۍ سره دا معلومات موندلی او پرې پوهيدلی شي
- ددې ډاډ ترلاسه کړي چې کورنۍ او ټولنې ستاسو د سازمان په پاليسيو او کړنو کې خپل نظر ولري
- کورنيو، پالونکو او ټولنې ته د خپل سازمان او هغې د کار کولو په اړه ووايي.

# د ماشومانو د خونديتوب معيار ۵



سازمانونه پوهيږي چې هر ماشوم له يو بل سره توپير لري. دوی د هر ماشوم بيلې اړتياوې په پام کې نيسي تر څو هغه پاملرنه او مرسته ورته ورکړل شي چې دوی اړتيا ورته لري.

ستاسو اداره بايد:

- پوه شئ چې هر ماشوم له يو بل سره توپير لري او ځينې ماشومان کيدای شي ډيرې مرستې ته اړتيا ولري
- د هغو ماشومانو سره مرسته وکړئ او اړتياوې يې په پام کې ونيسئ چې:
  - معلوليت لري
  - د مختلفو کلتورونو څخه دي
  - په مختلفو ژبو خبرې کوي
  - په کور کې د ژوند کولو توان نلري
  - ښځينه همجنس، نارينه همجنس، دوه جنسي، ټرانس جينډر، غير باينری، متنوع جنسيت، يا انټر سيکس تمايل ولري
- ددې ډاډ ترلاسه کړئ چې ماشومان په آسانۍ سره هغه معلومات او مرسته ترلاسه کولی شي چې دوی ورته اړتيا لري. دا بايد له کلتوري پلوه خوندي او د پوهيدو لپاره آسانه وي.
- ډاډ ترلاسه کړئ چې د ماشومانو لپاره شکايت کول او په پروسه پوهيدل آسانه دي
- داسټراليا د اصلي اوسيدونکو ماشومانو اړتياوې په پام کې ونيسئ او ډاډ ترلاسه کړئ چې دوی تل له کلتوري پلوه د خونديتوب احساس کوي.



# د ماشومانو د خوندیتوب معیار ۶

سازمانونه ددې ډاډ باید ترلاسه کړي چې هغه خلک چې د ماشومانو سره کار کوي مناسب دي. د کارکوونکو ملاتړ کیږي او پوهیږي چې څه باید وکړي ترڅو ماشومان د ناوړه ګټه اخیستنې او زیان څخه خوندي وساتي.

ستاسو اداره باید:

- د نوي کارکوونکو او رضاکارانو د ګمارلو پر مهال د ماشومانو خوندیتوب او هوساینې ته پام وکړي. دا کیدای شي د کار د پیل کولو څخه د مخه په اعلاناتو، د دریم کس نظر، او سکرینینګ کې وي.
- ددې ډاډ باید ترلاسه کړي چې کارکوونکي او رضاکاران د تاریخچې سمه پلټنه ترسره شي.
- ددې ډاډ ترلاسه کړئ چې نوي کارمندان پدې پوهیږي چې دوی باید څه وکړي ترڅو ماشومان د ناوړه ګټه اخیستنې او زیان څخه خوندي وساتي. پدې کې شامل دي:
  - ښه ریکارډونه ساتل
  - په دې پوهیدل چې کله معلومات باید شریک شي
  - په دې پوهیدل چې کله او څنګه راپور حوړ شي
- ددې ډاډ ترلاسه کړئ چې مدیران د کارکوونکو سره مرسته کوي چې د ماشومانو په خوندیتوب تمرکز کوي



# د ماشومانو د خوندیتوب معیار ۷

د شکایتونو او اندیښنو د حل پروسې په ماشومانو متمرکزې دي

ستاسو اداره باید:

- د شکایتونو پالیسي ولرئ. دا پالیسي باید:
  - موندل او لوستل یې آسانه وي
  - په ماشوم متمرکزه وي
  - تشریح کړئ:
    - مدیران، کارکوونکي او رضاکاران څه باید وکړي
    - د شکایتونو مختلف ډولونه څرنګه اداره کړو
    - که حیرې پالیسۍ یا د حلند قانون تعقیب نشي نو څه باید وشي
    - ستاسو سازمان څه وخت باید حاروالکو ته راپور ورکړي، لکه پولیسو ته
- ددې ډاډ ترلاسه کړئ چې ماشومان، کورنۍ، کارکوونکي او رضاکاران ټول پوهیږي چې ستاسو اداره څرنګه شکایتونه اداره کوي.
- شکایتونه په سمه توګه او له کلتوري لحاظه په خوندي ډول اداره کړئ
- ټول شکایتونه جدي ونیسئ او په چټکۍ سره ځواب ورکړئ
- د دې په اړه پالیسۍ او طرزالعملونه ولرئ:
  - خپل سازمان ته د شکایتونو راپور څرنګه ورکړئ
  - چا ته راپور ورکړئ
  - کله راپور حوړ کړئ
  - پولیسو او نورو حاروالکو ته د شکایتونو راپور ورکولو او ورسره د کار کولو څرنګوالی
- د راپور ورکولو، محرمیت، او کارموندنې په اړه د ټولو قوانینو پیروي وکړئ.



## د ماشومانو د خوندیتوب معیار ۸

سازمانونه کارکوونکو ته تعلیم او روزنه ورکوي ترڅو ماشومان د ناوړه ګټه اخیستنې او زیان څخه خوندي وساتي.

ستاسو اداره باید:

- د سازمان د ماشومانو د خوندیتوب او هوساینې پالیسي عملي کړي
- د ماشومانو د ناوړه ګټه اخیستنې او زیان نښې وپیژني. پدې کې د نورو ماشومانو لخوا رامینځته شوې ناوړه ګټه اخیستنه او زیان شامل دی
- د ماشومانو د خوندیتوب او هوساینې مسئلو ته ځواب ووایي
- د نورو کارکوونکو سره مرسته وکړي کله چې دوی د ماشوم د خوندیتوب د مسئلې سره مخامخ کیږي
- پدې پوه شي چې څرنګه ماشومانو ته له کلتوري پلوه د لا ډیر خوندیتوب احساس ورکړي.




## د ماشومانو د خوندیتوب معیار ۹

سازمانونه ددې ډاډ ترلاسه کړي چې کله ماشومان د دوی د خدماتو، ترتیباتو او فعالیتونو څخه ګټه اخلي باید خوندي وي. پدې کې هغه حالات هم شامل دي کله چې ماشومان آنلاین وي.

ستاسو اداره باید:

- ددې ډاډ ترلاسه کړي چې کارکوونکي او رضاکاران کولی شي خطرونه ومومي او ویې دروي. د دې کارونو د ترسره کولو پر مهال دوی بأید د ماشوم لاندیني حقونه خوندي وساتي:
  - محرمیت
  - معلومات
  - ملګري ولري او د یوازېتوب احساس ونه کړي
  - زده کړه
- ددې ډاډ ترلاسه کړئ چې کارکوونکي او رضاکاران په آنلاین خوندیتوب پوهیږي. کله چې دوی آنلاین وي، دوی باید ستاسو د سازمان د قانوني حلند سره
  - په مطابقت کې فعالیت ولري
  - د ماشومانو د خوندیتوب او هوساینې پالیسي
- **د خطر مدیریت پلانونه** ولیکئ. دا د هغو خطرونو سره د مقابلې لپاره پلانونه دي چې کیدای شي ستاسو د ترتیباتو، فعالیتونو او چاپیریال څخه راشي.
- کله چې ستاسو سازمان د نورو سازمانونو آسانتیاوې یا خدمات کاروي، د ماشومانو خوندیتوب باید وساتئ.

## د ماشومانو د خوندیتوب معیار ۱۰



### سازمانونه باید هغه لارې چارې وګوري او نبې یې کړي چې ماشومان د ناوړه ګټه اخیستنې او زیان څخه خوندي ساتي.

ستاسو اداره باید:

- د ماشومانو او ځوانانو د خوندي ساتلو لپاره د خپلو کارونو څارنه او نبه والی ته دوام ورکړي
- شکایتونو، اندیښنو، او د خوندیتوب پیښو ته کتنه وکړي ترڅو وومي حې څرنګه پیښ شوي دي. دا به تاسو سره د هغه څه په نبه کولو کې مرسته وکړي حې تاسو یې ترسره کوی
- کارمندانو، رضاکارانو، ټولنې، کورنیو او ماشومانو ته د هغه څه په اړه وواياست حې تاسو موندلي دي.

## د ماشومانو د خوندیتوب معیار ۱۱




### سازمانونو د دې په اړه لیکلي اسناد لری چې څرنګه دوی ماشومان د ناوړه ګټه اخیستنې او زیان څخه خوندي وساتي.

ستاسو اداره باید:

- لیکلي پالیسۍ او طرزالعملونه ولري حې:
  - د ماشومانو د خوندیتوب ټول معیارونه وپوښي
  - موندل او پوهیدل یی آسانه وي
- د خپلو پالیسیو او طرزالعملونو د پراختیا لپاره د اړوندو ادارو سره کار وکړئ. دا هغه خلک دي حې ستاسو په سازمان کې **برخه** لري. دا کیدی شي:
  - کارکوونکي او رضاکاران
  - ماشومان او د کورنۍ غړي
  - نور سازمانونه حې تاسو ورسره کار کوی
  - د ټولنې ډلې یا غړي
- د نورو سازمانونو ښو پالیسیو او طرزالعملونو ته وګورئ
- ډاډ ترلاسه کړئ حې ستاسو مشران د پالیسیو او طرزالعملونو ملاتړ کوي
- ډاډ ترلاسه کړئ حې کارکوونکي او رضاکاران په پالیسۍ او طرزالعملونو پوهیږي او عملي کوي یې.

# چیرته مرسته ترلاسه کولای شی

د ماشومانو د خوندیتوب د معیارونو تنظیم کونکي کولی شي تاسو ته معلومات درکړي ترڅو تاسو سره د معیارونو په پوره کولو کې مرسته وکړي.

تاسو کولی شئ دلته د ماشومانو د خوندیتوب معیارونو تنظیم کونکو په اړه معلومات ترلاسه کړئ.

تاسو کولی شی د کمیسیون سره په لاندې ډول اړیکه ونیسی:

ټیلیفون: 1300 782 978

Email: contact@ccyp.vic.gov.au

Website: www.ccyp.vic.gov.au

Interpreter

که تاسو ترجمان ته اړتیا لری، مهرباني وکړی د ترجمې او ژباړې خدماتو ته په 50 14 13 شمېره زنګ ووهئ. له هغوی څخه وغواړئ چې د ماشومانو او ځوانانو کمیسیون ته په 978 782 1300 شمېره زنګ ووهي.

کمیسیون د ویکټوریا په اوږدو کې د ځمکو د دودیزو مالکینو درناوی کوي او د پخوانیو، اوسنیو او راتلونکو نسلونو مشرانو، ماشومانو او ځوانانو ته درناوی کوي.

© د ماشومانو او ځوانانو ۲۰۲۳ کمیسیون

دا کار د کاپي حق لري. د 1968 کال د کاپي حق قانون له مخې د هر ډول کارونې پرته، هیڅ برخه د ماشومانو او ځوانانو کمیسیون له مخکینۍ لیکلي اجازې پرته د کومې پروسې له لارې بیا تولید کیدی نشي،
.Level 18, 570 Bourke Street, Melbourne 3000

کمیسیون غواړي د 2022 کال په مې میاشت کې د دې سرچینې (www.enliven.org.au /healthliteracy@enliven.org.au)
د ساده ژبې نسخې په پراختیا کې د انلیونز د روغتیا ادبي خدماتو د ونډې ستاینه وکړي. انځورونه د انلیون ویکټوریا لخوا رامینځته شوي او تطبیق شوي، په شمول د هغو انځور چې د اړیکو د سمبولونو 2022-1981© په شان کارول کیږي او د ټوبي ډیناوکس لخوا ترتیب شوي.
ټول حقونه په ټوله نړۍ کې خوندي دي. په اجازې سره یې کارولی شی. ®Boardmaker د ټوبي ډیناوکس سوداګریز نښه ده. دا سند باید په نورو لوریو خرڅ نشي. انځورونه باید له اجازې پرته بیا ونه کارول شي.

COMMISSION FOR CHILDREN
AND YOUNG PEOPLE